قرآني بيان

# د ګناه پرېښودو اِنعام

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 30 جنوری، کال 2026ء (بمطابق: 10 شعبان شریف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 30 جنورى، کال 2026ء (بمطابق: 10 شعبان شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د ګناه پرېښودو اِنعام

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- دوه جَنَّتونه يـې نصيب شول
- د 70 زره کوټو والا جَنَّتي کور
- د ګناه نه پس 4 بدئ
- پهٔ شبِ براءت کښې د کولو کارونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم: مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ صَلَاۃً وَّاحِدَۃً صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِیْئَاتٍ، وَرُفِعَتْ لَهٗ عَشْرُ دَرَجَاتٍ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** خوک چې په ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولولي، الله پاک په هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي، 10 ګناهونه يې ورانوي او 10 درجې يې اوچتوي۔ [1]

| | |
|---|---|
| حکم حق ہے پڑھو درود شریف | چھوڑو مت غافلو درود شریف |
| پڑھ کے ایک بار پاؤ دس رحمتیں | خوب سودا ہے لو درود شریف |
| جا کے وہاں پیش ہوگا نام بنام | جس قدر جس کا ہو درود شریف (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... نسائی، کتاب السہو، باب الفضل فی الصلاۃ علی النبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم، صفحہ:222، حدیث:1294۔

2... نورِ ایمان، صفحہ:39 ملتقطاً۔

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم(الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾ (پاره: 27، سورة الرحمٰن:46)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِيْم صلّى الله عليه وآله وسلّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَبّ په دربار کښې د ودريدو نه ويرېږي د هغهٔ د پاره دوه جَنَّتونه دي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د 27 سيپارې، د سورۀ رحمان آيت نمبر: 14 د اوريدو سعادت حاصل کړو۔ مفسرينِ کريم فرمائي: دا آيت مبارک د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان کښې نازل شوے، (1) په روايت کښې دي: يوه ورځ حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ناست وو او د اخرت په معاملو باندې يې غور او فِکر کولو، په سوچونو سوچونو کښې د قيامت منظر هغوئي ته مخې ته راتلو چې څنګه به اسمانونه راغونډولے شي، څنګه به غرونه د مالوچو په شان الوځي، ستوري به رژيږي، په داسې وحشت ناک انداز کښې به قيامت قائِم شي، بيا به د حشر ميدان، د عمل ميزان او بيا د جَنَّت او د دوزخ معامله---!! د قيامت د داسې وحشت ناکو منظرونو په باره کښې په غور کولو په حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ باندې د الله پاک ويره غالبه شوه او هغوئي په لړزيدو ووئيل: کاش چې زۀ شنه ګيا [واښهٔ] وے، زۀ يو ښاروي خوړلے وے---!! زۀ هډو پيدا کړے شوے نۀ وے---!!

---

[1]... تفسير قرطبی، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:46، جلد:9، جز: 17، صفحه:112 بتغير قليل۔

حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ داسې غور او فِکر کولو نو پهٔ دې باندې دا آیت مبارک نازل شو، (1) اللّٰه پاک وفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ۝ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:46) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب پهٔ دربار کښې د ودریدلو نه ویرېږي د هغهٔ د پاره دوه جَنَّتونه دي- |

د دې نه معلومه شوه چې حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جنتي دے او هغوئي ته د 2 جنتونو زیرے ورکړے شوے دے-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

یقیناً مَنبعِ خوفِ خدا صِدّیقِ اکبر ہیں
حقیقی عاشقِ خیرُالورٰی صدّیقِ اکبر ہیں

بِلا شک پیکرِ صبر و رِضا صدّیقِ اکبر ہیں
یقینا مخزنِ صِدق و وفا صدّیقِ اکبر ہیں

نہایت مُتّقی و پارسا صِدّیقِ اکبر ہیں
تقی ہیں بلکہ شاہِ اَتقیا صِدّیقِ اکبر ہیں

اَمیرُالْمُؤمِنِیں ہیں آپ امامُ الْمُسلِمِیں ہیں آپ
نبی نے جنّتی جن کو کہا صدّیقِ اکبر ہیں (2)

*_*_*_*

---

[1]... کتاب العظمہ، باب نوع من التفکر...الخ، ما ذکر من الفضل فی المتفکر، صفحہ:35، رقم:52۔

[2]... وسائل بخشش، صفحہ:565 ملتقطًا۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابِياتې هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور یاران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صدیق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسین هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدین د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِیه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابُو سُفیان هُم | جَنَّتي جَنَّتي[1] |

## د ګناه پرېښودو اِنعام

الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:46) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب په دربار کښې د ودریدلو نه ویریږي د هغۀ د پاره دوه جَنَّتونه دي- |

حضرت مُجاهِد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر لوئي عالِم دے، تابعي بزرګ دے، هغوئي فرمائي: د دې آیت مبارک مطلب دا دے چې کوم بنده چې کله د ګناه اراده اوکړي، بیا هغۀ ته د الله پاک په حُضُور کښې حاضریدل (د قیامت په ورځ د هر یو عمل حساب ورکول) وریاد شي او هغه د الله پاک د ویرې نه د ګناه اراده پریږدي، ګناه پریږدي، د داسې خوش قِسمته د پاره دوه جنتونه دي-[2] یو جنَّت د الله پاک د ویرې په صِله کښې او بَل د نفس د خواهشاتو د

1... وسائلِ فردوس، صفحہ:53۔

2... تفسیر درمنثور، پارہ:27، الرحمٰن، زیر آیت:46، جلد:7، صفحہ:706۔

پرېښودو پهٔ صِله کښې دے۔ [1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې د اللّٰه پاک نه وېرېږي چې د هغهٔ پهٔ حُضُور کښې به حاضري کیږي، دا خبره چې یاد وساتي او کوم بنده چې د ګناه نه بچ شي، د هغې څومره زبردست انعام دے، داسې نیک بخته ته به دوه جنتونه عطا کولے شي، هٰغه جنّتونه به څومره عالي شان وي؟ واورئ! اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| ذَوَاتَاۤ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:48) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د ښاخونو والا دي۔ |

یعني پهٔ دغه جنتونو کښې د میوؤ نه ډک باغونه دي، پهٔ هر ښاخ باندې یـې قِسما قِسم میوې دي۔ [2]

| | |
|---|---|
| فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:50) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ هغو کښې دوه چینې بهیږي۔ |

یعني پهٔ دې دواړو جنتونو کښې د صفا او خوږو اوبو دوه چینې بهیږي، د یوې نوم: تَسنِیم دے۔ د بلې نوم: سَلسَبِیل دے۔ [3]

| | |
|---|---|
| فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:52) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ هٰغه دواړو جَنّتونو کښې د هرې میوے دوه دوه قسمونه دي۔ |

---

[1]... تفسیر خازن، پاره:27، الرحمٰن، زیر آیت:46، جلد:4، صفحه:230۔
[2]... روح البیان، پاره:27، الرحمٰن، زیر آیت:48، جلد:9، صفحه:304 خلاصةً۔
[3]... حاشیۃ صاوی، پاره:27، الرحمٰن، زیر آیت:50، جلد:3، جز:6، صفحه:44۔

پۀ دغه جنتونو کښې دوه قِسمه میوې دي، بعضې داسې دي د کومو پۀ شان میوې چې پۀ دُنیا کښې هم لیدلے کیږي او بعضې داسې ناشنا دي کومې چې چا هم نۀ دي لیدلې-[1]

سُبْحٰنَ الله! داسې بے مثاله جنَّتونه دي، د چا د پاره؟ څوک چې د الله پاک نه ویریږي او د ویرې نه ګناه پرېږدي-

| | |
|---|---|
| مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی! |
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یاالٰہی! |
| گناہوں نے میری کمر توڑ ڈالی | مِرا حشر میں ہو گا کیا یاالٰہی!(2) |

## دوه جنَّتونه یې نصیب شول

د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خلافت د وخت خبره ده، یو ځوان ډیر تقویٰ دار او پرهیزګاره وو- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې به هم د هغوئي عبادت ولیدلو نو حیرانیدلو به- هغه ځوان چې به کله د ماسخوتن نـمونځ اوکړو او کور ته به تللو نو پۀ لاره کښې به یوې ښکلې زنانه هغه د ځان طرف ته رابللو خو هغه د نیک طبیعت والا ځوان به د هغې طرف ته بالکل هډو پام نۀ کولو، نظر به یې ښکته ساتلو او تیریدلو به- یوه ورځ چې کله هغه تیریدلو، زنانه هغه خپل طرف ته راوبللو نو هغه ځوان هم هغه طرف ته مائل شو خو څنګه چې هغې زنانه ته ورنزدې شو نو هغۀ ته د الله پاک دا فرمان وریاد شو:

---

[1]... روح البیان، پارہ:27، الرحمٰن، زیر آیت:48، جلد:9، صفحہ:304۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطًا۔

اِنَّ الَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا اِذَا مَسَّہُمۡ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّیۡطٰنِ تَذَکَّرُوۡا فَاِذَا ہُمۡ مُّبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۱﴾

(پاره:9، سورة الاعراف:201)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه پرهيزګارو ته چې کله د شيطان له طرفه څۀ خيال ورشي نو هغوئي (د الله حُڪم) يادوي بيا پۀ هُم هُغه ساعت د هغوئي سترګې وغړېږي-

د دې آيت مبارک د وريادېدو سره د هغۀ پۀ زړۀ باندې د الله پاک ويره غالبه شوه او هغه بے هوشه شو او پۀ زمکه باندې راپرېوتلو-

چې کله دا ډېر وخته پورې کور ته اونۀ رسيدلو نو د هغۀ بوډا والد صاحب پۀ لټون لټون هلته راورسيدو، هغه يـې راواوچت کړو او کور ته يـې بوتللو- چې کله ځوان پۀ هوش کښې راغلو نو خپل والد صاحب ته يـې ټوله واقعه بيان کړله، پۀ واقعه بيانولو بيانولو چې کله هغه بيا هُغه آيت مبارک ولوستلو نو بيا پرې د الله پاک ويره غالبه شوه، هغه يوه تيزه چغه ووهله او ساه يـې ورکړله- هُم د شپې هغۀ له غسل او کفن ورکړے شو او هغه دفن کړے شو- سحر چې کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ ته ټوله واقعه معلومه شوه نو هغوئي د هُغه ځوان قبر له تشريف يوړلو او دا آيت مبارک يـې ولوستلو:

وَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّہٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾

(پاره:27، سورة الرحمٰن:46)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب پۀ دربار کښې د ودرېدلو نه وېرېږي د هغۀ د پاره دوه جَنَّتونه دي-

د قبر نه هُغه ځوان جواب ورکړو او اوئې وئيل: يَا اَمِيرَ المُؤمِنِين! بے شکه زما رَبّ ما ته

دوه جنّتونه راعطا کړي دي-[1]

## د اللہ پاک په حُضُور کښې د حاضرۍ تصور

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے اِنعام دے- مونږ له هم دا صفت اختیارول پکار دي- هسې چې مونږه د بزرګانو د اللہ پاک نه د وېرې حالاتو ته وګورو نو د هغوئي څومره ښکلے شان دے--!! ❖ په هغوئي باندې خو به د اللہ پاک د وېرې نه رَږ لګېدلو ❖ د هغوئي لیدونکو ته به داسې ښکارېدله چې اوس د حشر د میدان نه واپس راغلي دي ❖ هر وخت به وېرېدلي، ترهېدلي وو ❖ د اللہ پاک د وېرې نه به یې ژړل ❖ د هغوئي په اوښکو باندې به ګیره لـمدېدله ❖ په مخونو باندې به یې اوښکو نخښې جوړولې ❖ بے هوشه کېدل به- دا ډېر د اعلیٰ درجې حالات دي، اللہ پاک دې یې مونږ ته د دغه نیکانو خلقو په وسیله راعطا کړي- کم از کم په هر مسلمان کښې خو دومره وېره پکار ده چې کله زمونږه په زړه کښې د ګناه خیال راشي، شیطان مونږ له د ګناه دعوت راکړي نو مونږ ته د اللہ پاک په حُضُور کښې ودرېدل رایاد شي، تصور مو جوړ شي چې هٰغه د قیامت وحشت ناکه ورځ--!! ❖ چې کله به نمر وور وروي ❖ زمکه به د اوسپنې وي ❖ سرۀ به وي ❖ خلق به هم په خپلو خولو کښې غوپې وهي ❖ مخکښیني وروستني به ټول حاضر وي ❖ قهر سره به مخامخ کېدل وي، رَبِّ کریم به په هٰغه ورځ باندې داسې غضب فرمائي چې داسې غضب به هغۀ مخکښې چرې هم نۀ وي فرمائیلے، په داسې وحشت ناکه مرحله باندې به زما نوم

---

[1]... تاریخ مدینه دمشق، جلد:45، صفحه:450-

اخستلے کیږي او غږ به کولے شي: اے فلانکي د فلانکي ځويه! د رَبّ پهٔ حُضُور کښې حاضر شه---!!

هُغه وخت به مونږه ویرېږو، سرونه به مو ښکته وي، د شرم نه به مخونه پټوو خو آه! پهٔ هُغه ورځ باندې به د پټیدو ځائے چرته وي---!! فرښتے به مو پهٔ راښکلو راښکلو د رَبّ پهٔ حُضُور کښې حاضر کړي- بیا به زمونږ نه زمونږ د اعمالو حساب اخستلے شي- پوښتنه به کولے شي: اے فلانکیه! ❖ آیا تا له ژوند نهٔ وو درکړے شوے؟ ❖ آیا تا ته نعمتونه نهٔ وو عطا کړے شوي؟ ❖ آیا تا ته د حق پیغام نهٔ وو دررسیدلے؟ بیا تا ګناه ولې اوکړه؟ هُغه وخت به زمونږ سره څهٔ جواب وي---؟ آه! مونږ به ډیر وشرمیږو، هیڅ خبره به نهٔ جوړیږي---!! آه! که هُغه وخت رَبِّ کریم غضب وفرمائیلو، زما پهٔ ګناهونو یې زهٔ راګیر کړم او زما دوزخ ته د غورځولو حکم جاري کړے شو نو زما به څهٔ کیږي---؟

| | |
|---|---|
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جہنم میں جلوں گا یاربّ! |
| دردِ سر ہو یا بخار آئے تڑپ جاتا ہوں | میں جہنم کی سزا کیسے سَہوں گا یاربّ! |
| ڈنک مچھر کا سَہا جاتا نہیں ، کیسے میں پھر | قبر میں بچھّو کے ڈنک آہ سہوں گا یاربّ! |
| گُھپ اندھیرے کا بھی وَحشت کا بسیرا ہوگا | قبر میں کیسے اکیلا میں رہوں گا یاربّ![1] |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د رَبِّ کریم پهٔ حُضُور کښې د حاضرۍ یو تصور دے- کاش! چې کله زمونږه زړهٔ د ګناه طرف ته مائله کیږي نو مونږ ته دا حاضري رایاده شي،

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:84-85 بتقدم وتاخر۔

د رَبِّ رحمان پهٔ حُضُور کښې ودرېدل راياد شي او مونږه وېرېږو او د رَبِّ رحمان نه حيا راشي او پهٔ ګناه پرېښودو کښې کامياب شو- کم از کم چې د الله پاک نه دومره وېره هم نصيب شي نو زمونږه ژوند صحيح کېدے شي- هم دا هُغه وېره ده پهٔ کومه باندې چې د دوو جنّتونو وعده فرمائيلے شوې ده-

## د 70 زره کوټو والا جنّتي کور

د حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ نه روايت دے: پهٔ جنَّت کښې د زبرجدو او د لعلونو جوړ شوے يو عظيمُ الشان محل دے، پهٔ دې کښې 70 زره کورونه دي، پهٔ هر کور کښې 70 زره کوټې دي، پهٔ دې عظيم الشان محل کښې به انبيائے کرام علَيهِمُ السَّلام وي، صِدّيقين به وي، شهيدان به وي، انصاف کوونکي بادشاهان به وي او هُغه ګس به وي کوم چې مُحَکَّم وي- عرض اوکړے شو: مُحَکَّم څوک دے؟ اوئې فرمائيل: هُغه ګس چا له چې د حرام کار دعوت ورکړے شي او هغه د الله پاک د وېرې نه د هُغه حرام کار نه منع شي-[(1)]

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی![( 2 )]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پښېمانه شوي اِنسان واقعه

پهٔ كِتَابُ التَّوَّابِين كښې ليکلے شوي دي: د بني اسرائيلو يو ګس وو، د هغهٔ نه ګناه

---

[1]… شعب الايمان، السابع والاربعون ، باب فى معالجۃ كل ذنب بالتوبۃ، جلد:5، صفحہ:412، حديث:7107۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔

وشوه- هغه چې کله پهٔ نادانئ کښې ګناه اوکړه نو هغه ډېر پښیمانه شو (د رَبّ پهٔ حُضُور کښې ورته حاضرېدل ورياد شو، بيا څهٔ وو) هغه نا قلاره شو او اخوا دېخوا يې منډې شروع کړې، د الله پاک د رحمت د هغهٔ دا نا قلارې خوښه شوه- نو رَبِّ رحمان د هغهٔ دا پښیماني قبوله کړه او هغه ته يې د ولايت ډېره اعلیٰ درجه صِدِّيقيت ورعطا کړه- (1)

## د يو قصاب توبه

شيخ ابو بکر بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو قَصاب (غوښه خرڅوونکے) د خپل ګاؤنډې پهٔ خادِمه باندې عاشق وو- يوه ورځ هٔغه خادِمه د څهٔ کار د پاره بل کلي ته روانه وه، قصاب موقع غنيمت وګڼله او پهٔ هغې پسې روان شو- کله چې قصاب ورو ورسيدو خادمې ووئيل: اے ځوانه ! زما زړهٔ هم ستا طرف ته مائله دے خو زهٔ د خپل رَبِّ کريم نه ويرېږم- کله چې قصاب دا واورېدل نو اوئې وئيل: چې تهٔ د الله پاک نه ويرېږې نو آيا ماله د هٔغه پاک ذات نه وېرېدل نهٔ دي پکار؟ پهٔ دې وئيلو هغهٔ توبه کړه او د هٔغه ځائے نه واپس شو- پهٔ لاره کښې هغه ډېر تږے شو- اتفاقي توګه د هغهٔ ملاقات د يو کس سره وشو کوم چې د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام قاصِد (يعنې پيغام وړونکے) وو- هٔغه نارينه قاصِد ترينه پوښتنه اوکړه: اے ځوانه ! څهٔ حال دے؟ قصاب ووئيل: ډېر زيات تږے يم- قاصِد ووئيل: راځه چې دواړه پهٔ شريکه د الله پاک نه سوال اوکړو- قصاب ووئيل چې ما خو هيڅ داسې ښهٔ عبادت نهٔ دے کړے، زهٔ به څنګه دُعا کووم؟ تهٔ دُعا اوکړه زهٔ به پرې آمين ووايم- هٔغه

---

1... کتاب التوابین، ذکر التوبین من احاد الامم الماضیۃ، توبہ رجلین من بنی اسرائیل، صفحہ:81 خلاصۃً-

ګَس دُعا اوکړه، د هغهٔ د دُعا اَثر فوراً ظاهر شو او د وريځې يوه ټوټه د هغوئي پهٔ سرونو د سوري کولو د پاره راغله- کله چې دا دواړه پهٔ مزل کولو د يو بل نه جُدا شو نو وريځه د قصاب پهٔ سر باندې راغله او قاصد پهٔ نمر پاتې شو- قاصِد پهٔ حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: اے ځوانه ! تا خو وئيل چې ستا سره هيڅ داسې ښه نيکي نشته، بيا دا وريځه ستا پهٔ سر سورے ولې کوي؟ بيا قصاب خپله او د خادمې والا واقعه بيان کړه، پهٔ دې اوريدو قاصد ووئيل: تا رښتيا ووئيل، د الله پاک پهٔ حُضُور کښې چې کومه مرتبه د توبه کوونکي ده هغه د بَل هيچا نشته- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اندازه ولګوئ چې د الله پاک پهٔ حُضُور کښې د حاضرۍ پهٔ سوچ کولو، د هغهٔ پهٔ دربار کښې د ودريدو نه پهٔ ويريدو د ګناه د پرېښودو څومره عظيم اِنعام دے ❖ څوک چې د قيامت د ورځې نه ويرېږي او ګناه پرېږدي، هغهٔ ته به دوه جَنَّتونه عطا کولے شي ❖ د بني اسرائيلو يو ګس چې د الله پاک پهٔ دربار کښې د پيش کيدو نه ويريدو نو هغهٔ ته د ولايت اوچت مقام عطا کړے شو ❖ د يو قصاب چې دا ويره نصيب شوه نو پهٔ هغهٔ باندې وريځې سورے اوکړو، د هغهٔ د دُعا برکتونه لاس پهٔ لاس ظاهر شول- دا څومره عظيم انعامونه دي- کاش چې زمونږ د رَبّ پهٔ دربار کښې د پيش کيدو ويره نصيب شي-

[1]... کتاب التوابين، ذکر التوبين من احاد الامم الماضية، توبة القصاب، صفحه:76۔

## د مُنافِق یو علامت

زمونږ یوه لویه مسئله ده چې په ګناهونو کولو کولو مو زړۀ زنګ شوے دے، اوس زمونږ سره د ګناهونو د سختئ احساس نۀ وي، هېڅ دا احساس راسره نۀ وي چې زۀ د چا نافرماني کووم۔ یاد ساتئ چې د زړۀ دا حالت د ډېرې غټې خطرې نخښه ده۔ په **حدیث شریف** کښې دي:

**اِنَّ الْمُؤْمِنَ یَرٰی ذُنُوْبَهٗ كَاَنَّهٗ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ یَخَافُ اَنْ یَّقَعَ عَلَیْهِ**

**وَاِنَّ الْفَاجِرَ یَرٰی ذُنُوْبَهٗ كَذُبَابٍ مَرَّعَلٰی اَنْفِهٖ**

**ترجمه:** مؤمِن خپلو ګناهونو ته داسې ګوري لکه چې هغه د یو غر لاندې ناست دے او وېرېږي چې هسې نۀ هُغه غر په هغهٔ باندې را وه نۀ غورځېږي او منافق خپلې ګناه ته داسې ګوري، لکه چې یو مچ دے کوم چې د هغهٔ په پوزه باندې تیر شو۔ [1]

## په وړه او لویه ګناه کښې فرق

علمائے کرام فرمائي: د بنده نه چې کله ګناه وشي او هغه هغه معمولي اونۀ ګڼي، ډېره لویه ګناه یې وګڼي او د الله پاک نه وېرېږي نو داسې ګناه د رَبّ په حُضُور کښې وړه ده (یعني د هغهٔ د دې وېرې په وجه هُغه ګناه بخښلے کیږي) او که بنده ګناه اوکړي، بیا هغه معمولي وګڼي نو هُغه ګناه ډېره لویه ده ځکه چې په هغې باندې به نۀ هغه پښیمانه کیږي،

---

[1]... بخاری، کتاب الدعوات، باب التوبۃ، صفحہ:1559، حدیث:6308۔

نۀ به يــې پرېږدي او نۀ به د هغې د معافۍ ذريعه جوړېږي-[1]

## د ګناه نه پس 4 بدۍ

حضرت عوّام بن حَوشَب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د ګناه کيدو نه پس 4 بدۍ داسې دي کومې چې د ګناه نه هم ډيرې بدې دي: (1): اِستِصغَار (يعنې ګناه معمولي ګڼل) (2): اِغتِرَار (غافِله کيدل) (3): اِستِبشَار (يعنې خوشحاليدل، د الله پاک په حُضُور کښې د حاضرۍ نه نۀ ويريدل) (4): اِصرَار (يعنې په ګناه باندې کلک ودريدل، توبه نۀ کول)-[2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ګناه کيدل د اِنسان فطرت دے يعنې زمونږ په شان د عامو انسانانو نه ګناهونه کيږي خو مونږ له د دې ځلورو بدو نه هُم بچ کيدل پکار دي ❖ چې ګناه وشي نو هغه معمولي نۀ ګڼو، دا نۀ وايو چې هيڅ نۀ دي شوي، وړه شان غلطي شوې ده کنه، الله پاک رحمان دے، وه به يــې بخښي- دا ډيره لويه ناداني ده- شوي دي، ډير څۀ شوي دي، الله پاک کوم چې جبّار او قهار دے، د هغۀ نافرماني شوې ده، آيا دا معمولي خبره ده---؟ نا، هيڅکله هم نا- دا معمولي خبره نۀ ده، ډيره غټه خبره ده ❖ په ګناه باندې غرور نۀ کوو ❖ چې ګناه شوې ده نو بيا په هغې باندې نۀ خوشحاليږو، ويريږو، آه! زما نه ګناه شوې ده، هئ! هئ! زۀ به د رَبِّ کريم حُضُور ته څنګه ځم، څۀ جواب به ورکووم، دا سوچ اوکړئ او ويريږئ، د قبر او د حشر تصور شروع کړئ او پريشانه شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دا

---

[1]... تنبيہ الغافلين، باب ما جاء فی الذنوب، صفحہ:209۔

[2]... تنبيہ الغافلين، باب ما جاء فی الذنوب، صفحہ:209۔

پښېماني به مو پۀ کار راشي او ❖ خلورمه خبره دا چې ګناه وشوه نو بيا پۀ هغې باندې کلک اونه درېږو، زر تر زره هغه ګناه پرېږدو او د توبې طرف ته لاړ شو-

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ شبِ بَراءَت کښې د کولو کارونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شَبِ براءَت تشريف راوړونکې دہ ❖ ډېره د برکتونو والا ❖ د عظمونو والا شپه دہ ❖ پۀ دې شپه باندې الله پاک پۀ خپلو بندګانو باندې خصوصي رحم او کرم فرمائي ❖ پۀ لکونو ګنهګاران بخښلے کېږي ❖ د دعاګانو د قبليدو ❖ او د رزق د تقسيمدو شپه دہ ❖ پۀ دې شپه باندې چې پۀ رزق کښې د برکت د پاره کومه دُعا اوکړے شي، قبلېږي- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې د شعبان مينځنۍ (يعني پينځلسمه) شپه راشي نو پۀ دې شپه کښې قيام (يعني عبادت) کوئ، د ورځې روژه نيسئ، بے شکه پۀ دې شپه د نمر د پرېوتو سره الله پاک د خپل شان مطابق د دُنيا پۀ اسمان باندې تجلي فرمائي او اِرشاد فرمائي: ❖ اَلَا مِنْ مُّسْتَغْفِرٍ لِّیْ فَاَغْفِرَ لَهٗ شته خوک زما نه بخښنې غوښتلو والا چې زۀ هغه معاف کړم ❖ اَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَاَرْزُقَهٗ شته خوک رزق غوښتلو والا چې زۀ هغۀ ته رزق عطا کړم ❖ اَلَا مُبْتَلًی فَاُعَافِيَهٗ شته خوک پرېشانه چې زۀ د هغۀ پرېشاني ختمه کړم، شته خوک داسې، شته خوک داسې، د سحر کيدو پورې هُم

داسې اِعلان کيږي۔ [1]

## په شبِ بَراءَت کښې کوونکي کارونه

شَبِ بَراءَت ډېره نازکه شپه ده، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۝ (پاره:25، سورۃ الدخان:4) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: په دې شپه کښې هر حِکمت والا کار تقسيميږي۔ |

حضرت عطاء بن يسار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې د شعبان د نيمې شپه يعنې شبِ براءَت راځي نو حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام ته يوه صحيفه (يعنې وړوکے شان کتاب/پاڼه) ورکولے شي او حُکم وي چې په دې کښې د کومو کسانو نومونه ليکلے شوي دي، د هغوئي رُوحونه په دې کال کښې قبض کړه۔ آه! اِنسان په وادهٔ ښادئ کښې مصروف وي، د کور په جوړولو او ښه کولو کښې مصروف وي او د هغهٔ نوم د مړو په لِسټ کښې ليکلے شوے وي۔ [2]

| | |
|---|---|
| بے وفا دُنیا پہ مت کر اِعتبار | تُو اچانک موت کا ہو گا شکار |
| موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ! (3) |

په شَبِ بَراءَت کښې اعمال نامې بدليږي، لهذا د دې شپې د برکتونو حاصلولو، د مغفرت

---

[1] ابن ماجہ، کتاب اقامۃ الصلاۃ والسنۃ فیہا، باب ما جاء فی لیلۃ...الخ، صفحہ:225، حدیث:1388۔
[2] احیاء العلوم، کتاب ذکر الموت وما بعدہ، الباب الثالث، بیان الحسرہ عند لقاء...الخ، جلد:4، صفحہ:567۔
[3] وسائلِ بخشش، صفحہ:711۔

او د بخښني د خيرات د پاره بهتره ده چې د شَبِ براءَت راتلو نه مخکښې مخکښې دا 5 کارونه ضرور اوکړئ:

## (1): توبه وکړئ!

د 14 شَعبَانُ الـمُعَظَّم په ماښام د نمر پرېوتو په وخت د تير کال اعمال نامه راغونډولے کيږي، ځکه بهتره ده چې د شَبِ بَراءَت د راتلو نه مخکښې مخکښې توبه وويستلے شي- په **حديثِ پاک** کښې دي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى الله عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ د ګناه نه توبه کوونکے داسې دے ګويا هغۀ چې هډو ګناه نۀ وي کړې- [1]

## د توبې طريقه

ياد ساتئ چې دلته توبه ډيره سپکه ګڼلے شي ❖ بعضې خلق مخ له معمولي شان پړق ورکړي او وائي: توبه، توبه ❖ بعضې پوزې او غوږونو له لاس يوسي ❖ څوک خپله ژبه په غاښونو کښې اونيسي او دري څلور ځله توبه توبه ووائي، دا توبه نۀ ده، **د رښتوني توبې دري اركان دي: (1):** په ګناه باندې دې د پاره پښيمانه کيدل چې هغه د الله پاک نافرماني ده مثلاً چا د سُود کاروبار اوکړو، بيا د سود په لين دين باندې د پښيمانه کيدو ډيرې وجهې کيدے شي: ❖ چا د سود په لين دين کښې نقصان اوکړو، ځکه پښيمانه کيږي ❖ د سود د لين دين په وجه ترينه کور والا يا دوستان او خپلوان خفه دي، ځکه پښيمانه کيږي نو داسې پښيماني د توبې د پاره کافي نۀ ده بلکې د توبې د پاره ضروري ده چې سود د الله پاک

---

[1]... ابن ماجه، كتاب الزهد، باب ذكر التوبة، صفحه:689، حديث:4250-

نافرماني وکړې او د الله پاک د عذاب نۀ ویرېږي او پښېمانه شي- (2): دویم رُکن دا دے چې بنده هُغه ګناه فوراً پرېږدي، داسې نۀ وي چې ګناه هم کوي او توبې هم اوباسي، دا توبه نۀ بلکې مَعَاذَ الله! ټوقې دي- (3): د رښتونې توبې دریم رُکن دا دے چې بیا د پاره د هُغې ګناه د نۀ کولو پخه اِراده اوکړي- چې دا درې واړه ارکان پوره شي نو دې ته به رښتونې توبه وئیلے کیږي- (1)

میں کر کے توبہ پلٹ کر گُناہ کرتا ہوں
حقیقی توبہ کا کر دے شرف عطا یارَبّ! (2)

## (2): د نورو خلقو نه معافي وغواړئ

دویم ډیر اهم کار دا دے چې د شبِ براءَت راتلو نه مخکښې مخکښې د بندګانو حقونه معاف کړے شي- دا هُم د توبې یوه حصه ده- که د یو بنده حق وهلے شوے وي، چې تر څو پورې پۀ هغۀ باندې معاف نۀ کړے شي، تر هُغه وخته پورې هُغه حق وهل نۀ معاف کیږي، ځکه بهتره ده چې د شبِ براءَت راتلو نه مخکښې مخکښې د خپل هر یو اشنا ګس نه احتیاطاً معافي وغواړئ، د پاره د دې که پۀ قصداً یا پۀ نا پوهۍ کښې چرې د چا زړۀ ازار شوے وي، چا ته مو تکلیف رسولے وي نو د هغې معافي وشي- دلته د شبِ براءَت نه مخکښې پۀ واټس ایپ (*WhatsApp*) وغیره باندې یو میسج چلیږي، پۀ کوم کښې چې نورو خلقو ته د معافۍ درخواست کولے شي، دا ښه طریقه ده خو یو میسج درې یا

[1] ... تفسیر خزائن العرفان، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:37، صفحہ:16۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:78۔

خلورو سوو کسانو ته فارورډ (**Forward**) کول د معافۍ د پاره کافي نۀ دے، بهتره دا ده چې هغوئي ته فون اوکړے شي او چا ته چې رسيدلے نشي نو هغوئي ته باقاعده اواز يا ليکلے پيغام (**Voice or Text Message**) د خپل طرف نه ريکارډ (**Record**) کړے شي او يا وليکلے شي او وليږلے شي، د پاره د دې چې مخامخ ګس ته واقعي پۀ سنجيدګۍ سره معلومه شي چې زما نه معافي غوښتلے کيږي او د چا نه چې معافي غوښتلے کيږي، هغوئي له هم پکار دي چې خپل مسلمانان وروڼه معاف کړي او ثواب وګټي۔

مُعاف فَضل و کرم سے ہو ہر خطا یارَبّ!
ہو مغفرت پئے سلطانِ اَنبیا یارَبّ!
بِلا حساب ہو جنّت میں داخِلہ یارَبّ!
پڑوس خُلد میں سَروَر کا ہو عطا یارَبّ! (1)

## (3): د زړۀ نه بُغض او کينه اوباسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د روايتونو مطابق چې کوم بد نصيبه چې د شبِ براءَت پۀ شان پۀ عظيمه شپه کښې هم د بخښنې نه محرومه پاتې کيږي، پۀ هغوئي کښې يو بُغض او کينې ساتلو والا هم دے۔ (2)

يقيناً چې پۀ مونږ کښې هر يو د مغفرت او د بخښنې طلب ګار او حاجت مند دے،

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:82۔

2 ...شعب الايمان، الباب الثالث والعشرون فی الصيام، ما جاء فی ليلۃ...الخ، جلد:3، صفحہ:380، حديث:3827۔

ځکه د شبِ براءَت راتلو نه مخکښې د دې ټولو ګناهونو نه د توبې سره سره دا هم ضروري دي چې مونږ خپل زړۀ صفا کړو، پۀ زړۀ کښې د چا بغض او کينه (يعنې پټه دښمني)، د چا پۀ باره کښې حَسَد، د چا د پاره څۀ خِيرے اونه ساتو-

الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4): د ماښام نه پس 6 نفلونه

د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پۀ معمولاتو کښې دي چې د ماښام د نـمونځ د فرض او سُنَّتو نه پس 6 رکعته نفلونه 2، 2 رکعته ادا کړے شي- ❖ د وړومبو 2 رکعتونو نه مخکښې دا نيت اوکړئ- يا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پۀ برکت باندې ما ته د خير سره زيات عمر راعطا کړې ❖ د دويمو 2 رکعتونو نه مخکښې دا نيت اوکړئ: يا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پۀ برکت باندې د بلاګانو نه زما حفاظت اوکړې ❖ د دريمو 2 رکعتونو د پاره دا نيت اوکړئ: يا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پۀ برکت باندې ما د ځان نه علاوه د چا هم مۀ محتاجه کوې-

پۀ دې شپږو رکعتونو کښې د سُورَةُ الـفَاتِحَه نه پس سُورَةُ الاِخلَاص ولولئ- د هرو دوو رکعتونو نه پس 21 کرته سورۀ اِخلاص (قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ټول سورت) يا يو ځل سُورَةُ يٰسين شريف ولولئ بلکې که کولے شئ نو هُم دواړه ولولئ- دا هم کيدے شي چې يو اِسلامي

وروو پهٔ تيز اواز يٰسين شريف لولي او نور يــې پهٔ خاموشۍ سره ښه پهٔ توجه باندې اوري- پهٔ دې کښې دې د دې خبرې خيال وساتلے شي چې اوريدونکي دې پهٔ دغه وخت کښې پهٔ ژبه يٰسين شريف بلکې هيڅ هم نهٔ لولي او دا مسئله هم ياده ساتئ چې کله قرآنِ کريم پهٔ تيز اواز وئيلے کيږي نو چې کوم خلق د اوريدو د پاره حاضر وي نو پهٔ هغوئي باندې فرضِ عين دي چې پهٔ خاموشۍ سره ښه پهٔ توجه يــې واوري- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هُم د شپې پهٔ شروع کيدو کښې به د ثوابونو ډيرے جوړ شي- هر ځل د يٰسين شريف نه پس د شعبان د نيمې يعني شبِ براءَت دُعا هم لولئ-

د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د شَعبَانُ الـمُعَظَّم د مياشتې پهٔ فضيلتونو باندې مشتمله رساله ده: آقا (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) کا مهينه- پهٔ دې رساله کښې د شعبان د نيمې يعني شبِ براءَت دُعا ليکلے شوې ده، هلته يــې وګورئ او اوئې لولئ-

## د شَبِ براءَت د اِجتماع ترغيب

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د انتظام لاندې پهٔ شَبِ براءَت کښې د ټولې شپې د اِجتماع انتظام هم کيږي، دا اِجتماع شَبِ براءَت پهٔ نيکو کښې د تيرولو بهترينه ذريعه ده- پهٔ دې کښې هم ضرور شرکت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! تِلاوت به کيږي، نعت شريف به وي، د سُنَّتو نه ډک بيان به کيږي او د زړا نه ډکه دُعا به هم کيږي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډير زيات ثواب ګټل به مو نصيب شي- د 15 شعبان روژه نيول وي، ځکه د اِجتماع پهٔ اخره کښې د پيشمني انتظام هم کولے شي- تاسو هم د 15 شعبان د روژې نيولو نيت اوکړئ!

## (5): د 15 شعبان روژه ونيسئ!

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: کله چې د 15 شعبان شپه راشي نو پۀ دې کښې قيام (يعنې عبادت) کوئ او د ورځې روژه نيسئ! (1)

## خپل مرحومين (وفات شوي خلق) ياد ساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ شَبِ براءَت کښې خپل هُغه خوښ خلق هم ياد ساتئ! کوم چې د دې دُنيا نه تلي دي- پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: د شعبان په پنځلسمه شپه (يعنې پۀ شبِ براءَت) د وفات شوو رُوحونه د خپلو کورونو پۀ دروازو باندې ودرېږي او وائي: صدقه اوکړئ او پۀ مونږ باندې رحم اوکړئ اګر که د ډوډۍ يوه نمړۍ ولې نۀ وي- که د هغوئي د ايصالِ ثواب د پاره څه صدقه نۀ کړے شي نو هغوئي ډېر پۀ ارمان واپس ځي- (2)

که کولے شئ نو د خپلو وفات شوو خلقو د اِيصالِ ثواب د پاره 1500 روپۍ د الله پاک پۀ لاره کښې د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د دِيني کارونو د پاره جمع کړئ! داسې به پۀ ټوله دُنيا کښې پۀ کيدونکو دِيني کارونو کښې ستاسو حصه هم شامله شي او د وفات شوو د پاره به اِيصالِ ثواب هم وشي-

**د عطّار دُعا:** يا الله پاکه! څوک چې د شعبان پۀ مياشت کښې پۀ دعوتِ اِسلامي

---

[1] ... اِبْنِ ماجہ، کتاب اقامۃ الصلاۃ والسنۃ فیھا،باب ما جاء فی لیلۃ...الخ، صفحہ:225، حدیث:1388۔

[2] ... دُرَرُ الحِسَان، صفحہ:33 ۔

کښې کم از کم 1500 روپۍ (او د نورې کرنسۍ والا په خپل حِساب سره) جمع کړي هغه له د هغه وخت نه مخکښې مرګ مهٔ راولې د خو پورې چې کلمه اونهٔ وائي، د هغهٔ لاس دې همیشه بره وي، د هغهٔ جیب دې همیشه ډک وي، صرف ستا د دَر دې محتاج وي او پهٔ جَنَّت الفِردوس کښې دې ستا د خوږ حبیب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړ شي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

الله پاک دې مونږ ټولو ته د رښتونې توبې توفیق راعطا کړي او د شبِ براءَت د برکتونو حاصلولو سعادت دې رانصیب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## کلامِ اعلیٰ حضرت موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي د جدید ټیکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د عشقِ رسول د جامونو ښنولو کوششونه کوي، د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: ***Kalam e ala hazrat*** (کلامِ اعلیٰ حضرت)- ❖ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د اِمامِ اهلسنت اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ډېره مشهوره د نعتونو مجموعه حدائقِ بخشش او نغماتِ رضا (د مَدَني چینل پروګرام) شامل کړے شوي دي- ❖ کوم چې د حروفِ تهجي پهٔ ترتیب سره شامل کړے شوي دي ❖ د خپلې خوښې د کلام لټولو (***search***)آپشن پکښې موجود دے ❖ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د مَدَني چینل سلسله نغماتِ رضا (یعني

د حدائقِ بخشش خاص کلامونه) هم شامل کړے شوي دي کوم چې په اسانۍ سره په آډيو او ويډيو کښې کتلے او اوريدے شي- دا ايپلي کيشن حاصل کړئ او خپل زړۀ د الله پاک د اخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت باندې روښانه کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** په نـمونځ کښې په يو رُکن کښې درې کرته د لاس اوچتولو سره نـمونځ ماتيږي-

**وضاحت:** په نـمونځ کښې په يو رُکن کښې يو لاس د ضرورت په توګه دوه کرته د اوچتولو اِجازت شته ، درې کرته د اوچتولو سره نـمونځ ماتيږي- [1] مثلاً قيام [يعني ودريدل] يو رُکن دے، د يو رکعت په قيام کښې درې يا د دې نه زيات کرته که لاس اوچت کړے شو، مثلاً درې کرته ځان وګرولے شو نو نـمونځ به مات شي- په **بهارِ شريعت** کښې دي: په يو رُکن کښې درې کرته د ګرولو سره نـمونځ ماتيږي يعنې که ځان يـې وګرولو او لاس يـې لرې کړو بيا يـې وګرولو بيا يـې لرې کړو او په دريم ځل يـې بيا وګرولو او که يو ځل يـې په لاس کيښودو څو ځله حرکت ورکړو نو هم يو ځل ګرول به

---

[1]... فتاوىٰ اہلسنت (غیر مطبوعہ)، فتاویٰ نمبر:WAT-2267 ۔

ورته وئيلے شي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## یَا اَحَدُ

څوک چې د الله پاک دا مُبارَک نوم یَا اَحَدُ 9 کرته ولولي او د حاکِم مخې ته لاړ شي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عزت او سربلندي به بيامومي۔ څوک چې دا يو زر [1000] کرته ولولي نو نيک اِنسان به جوړ شي۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:614، حصہ:3۔

[2]… مدنی پنج سورہ، صفحہ:255۔